مصطفی پسرلی
۰۳/۱۲/۲۰۱۹

# د وینو ځبنل هم اوس روا شول دلته
# غزل

ماتــوی تنـده دا وحشیان په ویـنو
لـمبوي ښکلي ماشومان په ویـنو
واکدار د ځمکې مو آواز نه اوري
آسمان لـړلی هر بـاران په ویـنو
تـیل او اوبــه مـالــومـه بیه لــري
چا نرخ کښېښود د افغان په ویـنو
خوښي زمـا سره یــاري نه کوي
مل مي دی تل د غم داستان په ویـنو
د وینو ځبنل هم اوس روا شول دلته
اودس هم کیږي د انسان په ویـنو
په سپین کاغذ مي توري کرښې ژاړي
بـیانــوي راتــه دوران پـه وینو
دا قتـل عام د "پسرلي" موسم کې
سره شو ګلان او شنه توتیان په وینو
**** **** ****

د وینو ځبنل هم اوس روا شول دلته
Mostafa_p_٦٧_ghazal.pdf